د وسلو تولولو او بیا میشته کولو کمیسیو
گډه دارالانشآ

کمیسون جمع آوری سلاح و استقرار مجدد
دارالانشای مشترک

**Disarmament and Reintegration Commission**
**Joint Secretariat**

**مطبوعاتي اعلامیه**

---

## د ډیاګ کنفرانس، ګډون کوونکي د دولت د رئیس مرستیال او د هیواد د ولایتونو والیان

**کابل ۲۰۰۷م کال د اپریل د میاشتي ۲۱ مه نیټه**

دپنجشنبه په ورز د اپریل د میاشتي ۱۹ مه نیټه جلالتمآب خلیلي د دولت د رئیس مرستیال د افغانستان د ولایتونو ۹ تنو والیانو ته د ډیاګ د تطبیق په هکله د ولسوالی په کچه معلومات ورکړل.

په دغه غونډه کي د ملي دفاع وزارت، د کلیو د بیارغوني او پراختیا وزارت وزیرانو، د ملي امنیت رئیس، د ملي امنیت سلاکار، د کورنیو چارو، د کار او ټولنیزو چارو، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارتونو مرستیالانو او د نړیوالي ټولني غړو ګډون درلود.

د ډیاګ د راتلونکي کمپاین د چمتوالي لپاره، ۱۹ ولسوالیو د پخوا څخه د ډیاګ فعالیتونه پیل کړي دي. د کنفرانس د پای ته رسیدو سره جوخت، نوموړي والیان خپلو ولایتونو ته ستانه شول تر څو د دولت د رئیس د مرستیال امرونه عملي کړي.

دغه کمپاین یوازې یوه برخه د ډیاګ د اجرااتی پلان ده کوم چي د دولت د رئیس جلالتمآب حامد کرزي له خوا د ۲۰۰۷م کال د فبروری د میاشتي په ۱۷مه نیټه لاسلیک شو.

کله چي ډیاګ د ولسوالیو توافق ترلاسه کړي، نو پرمختیایي پروژې به په دغه ولسوالیو کي پیل شي. ډیاګ د کاپیسا ولایت د محمود راقي په ولسوالی کي د کانال د پاکولو پروژه پلي کړې ده او د کاپیسا ولایت د دویم کوهستان په ولسوالی کي د وترنرۍ د کلینیك د ودانولو لپاره د چمتوالي په ورستي پړاو کي دی. همدارنګه، د تخار ولایت د فرخار په ولسوالی کي د اوبو د برېښنا د کوچنی کارخاني ودانولو ته وروستی چمتوالی نیسي.

**د خبري رسنی د تماس پته:**

---

راشد ایثار، د افغانستان دنوي پیل دپروګرام د عامه معلوماتوافسر.
د ګرځنده تیلفون شمیره: 0799 233 937
د بریښنا لیك پته: reasar@anbpafg.org

سوما ابراهیمی د افغانستان دنوي پیل دپروګرام د عامه معلوماتو کارمند
د ګرځنده تیلفون شمیره:070072 577
د بریښنا لیك پته: sibrahimi@anbpafg.org

www.diag.gov.af - www.undpanbp.org